د اومیکرون په اړه زده کړه

د کوویډ-19 واکسین

# په حقایقو پوه شئ.

## د کوویډ-19 ډولونه: هغه څه چې باید تاسو پرې پوه شئ

ویروسونه تل بدلیږي. کله چې لوی بدلون پیښ شي، ساینس پوهان دا یو نوی ډول بولي. ځینې ډولونه لږ مضر دي، په داسې حال کې چې نور یې خطرناک دي.



ساینسپوهان د بنو په اړه اندېښنه لري چې سړی په اسانۍ نیسي او په اسانۍ خوربږي یا هغه چې د نورو ګڼو ناروغیو سبب کېږي.



د هر عمر ډېرى خلک د کوویډ-19 د ډولونو له امله ناروغېږي، د لویانو، تنکیو ځوانانو او ماشومانو په ګډون.



که اپډېټ نه وئ، به ډېر احتمال پر کوویډ-19 اخته کېږئ، جدي ناروغي مو نیسي یا مړ کېږي او همداراز نورو ته یې لیږدوئ.

## واکسین د کوویډ-19 ډولونو په وړاندې ساتنه کوي

له بېلابېلو ناروغیو څخه د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې د ساتنې غوره لاره دا ده چې د خپلو کوویډ-19 واکسینونو په اړه اپډېټ اوسئ. واکسینونه شامل دي:

- **خوندي:** واکسین د بېلا بېلو نژادونو، توکمونو او عمرونو لرونکو کسانو په ګډون د ملیونونو خلکو لپاره خوندي ثابت شوي دی. دا ډېر احتمال لري چې تاسو به د واکسین په پرتله له کوویډ-19 څخه جدي ستونزې ولرئ.
- **اغیزناک:** واکسین تاسو د کوویډ-19 پر بېلابېلو بنو له اخته کېدو ساتي. که چېرته ناروغ شئ، نو دا واکسین تاسو له جدي ناروغۍ او مړینې څخه هم خوندي کوي.
- **وړیا:** واکسینونه د ټولو لپاره وړیا دي؛ پرته له دې چې ستاسو د کډوالۍ حالت ته وکتل شي یا دا چې تاسو ID یا طبي بیمه لرئ که نه.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus

# تاسو کولی شئ د
# واکسین په ترلاسه کولو سره د خطرناکو ډولونو مخه

زموږ د ټولو ټولنو واکسينول يوازينی لار ده چې په لومړي سر کې کې د خطرناکو ډولونو د پراختيا مخه ونيسي.

له بېلابېلو ناروغيو څخه د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې د ساتنې غوره لاره دا ده چې د خپلو کوويډ-19 واکسينونو په اړه اپډېټ اوسئ.

2 اونۍ

له وروستي شاټ څخه دوې اونۍ وخت نيسي چې ټول هغه خونديتوب ترلاسه کړئ چې واکسين يې وړاندې کوي.

## خپل ځان او خپله ټولنه د کوويډ-19 له ډولونو څخه خوندي کړئ

د کوويډ-19 ځينې بڼې په اسانۍ سره نيسي او نورو ته په اسانۍ خوربږي. د واکسين په ترلاسه کولو سره خپل ځان او ټولنه خوندي کړئ او:

- ماسک اغوستل.
- د ټولنيز واټن مراعات کول.
- له ډيرو خلکو سره له غونډو څخه ډډه کول.
- د لوړ تماس ځايونه غير منتن کول.
- په مکرر ډول خپل لاسونه مينځل.

## تاسو کولی شئ د واکسين په ترلاسه کولو سره د خطرناکو ډولونو مخه ونيسئ.

## د کوويډ-19 په مخنيوي کې مرسته وکړئ.



NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زياتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus